BØRN OG UNGE
Aarhus Kommune



# ريډ

## - سره يو ځای په لوستلو کې

## 0-3 کلن


Min lille bog om

# تاسو د مور اوپلار په توګه خورا مهم یاست

کله چې تاسو د خپل ماشوم سره لولئ او د کتابونو په اړه د ماشوم سره خبرې وکړئ، تاسو د ماشوم ژبه او د کتابونو په اړه پوهه او لیک پیاوړی کوی. دا د دی لپاره مهمه ده، چې ستاسو ماشوم څنګه د نورو سره خبرې وکړي او په خپل شاوخوا ماحول پوه شي.

- ماشوم ژر پیل کوی چی ستاسو خبرو او کیسو ته غوږ ونیسي
- د ماشوم ژبه پیاوړې کیږی، کله چی تاسی د ماشوم سره لولی او د کتابونو په اړه د ماشوم سره خبرو کوی



# ريډ

- سره يو ځای په لوستلو کي

0-3 کلن



# خپل ماشوم سره ولولئ

ځومره ژر چی تاسو د خپل ماشوم سره لوستل پیل کړئ هومره به ښه وی. په پیل کې تاسو کولی شئ کتابونه د ساده موضوع ګانو او ساده کلمو ولولی چې ګډه پاملرنه رامینځ ته کړي، او تاسو ته د خبرو کولو لپاره یو ځه رامنځ ته کوی. دا کولی شي د اشارو او لمس کولو کتابونه وي، چې تاسو ماشوم پریږدئ چی هغی سره لاس ووهی او ورقی یی واړوی. ماشوم به په تدریجي ډول یو زرغون کیدونکی د لوستلو شوق تجربه کړي.

- الفاظونو، انځورونو ته اشاره وکړئ او د لوستلو سمت ورو ښایی
- د لوستلو ښه عادتونه وخت نیسي. هر څوهره ډیر چې تاسو لولئ، هغومره ستاسو د ماشوم د لوستلو شوق ډیریږی



# د کتاب په اړه خپل ماشوم سره خبرې وکړئ

دا یو ښه نظر دی چې خپل ماشوم سره تاسو د کتاب په اړه خبرې وکړئ، د لوستلو څخه  مخکی، په جریان کی، او وروسته. د کتاب په اړه په خبرو کې، ستاسو ماشوم اړتیا لرئ چې په کتاب کی د انځورونو نومونه ذکر کړئ او د محتویاتو په اړه یی خبری  وکړئ.

کله چې تاسو  آزادی او هڅونکی پوښتنی وپوښتئ، ستاسو ماشوم د کتاب په اړه په اړه په خبرو کی لازیاته فعاله برخه اخلي. دا د ماشوم ژبه او علاقمندی هڅوي  چې خبری وکړی. خپل ماشوم ته د غوږ نیولو او ځواب ور کولو لپاره ډیر وخت ورکړئ. ځوابونه د بدن حرکات اود ځیری اشاری هم کیدی شي.

تاسو کولی شئ د خپل ماشوم سره مرسته وکړی تر څو د کیسی په اړه خبری وکړی او د توضیحاتو په اړه ژوره تشریح ورکړئ. څرمره زیاته پوهه چی ستاسو ماشوم د شیانو په اړه لری، هغومره زیاتو کلمو باندی ستاسو ماشوم پوهیږي او کاروي، او هماغومره  به ستاسو ماشوم په ښه توګه د کتابونو د محتوا په اړه پوه شي. الفاظ  تشریح او بیان کړئ، او په حرکاتو او انځورونو سره یی وخایی خپل ماشوم ته.

تاسو کولی شئ په لوستلو کې مرسته، په هغی پاڼې کی «دا رنګه کولای شی د خپل ماشوم سره ولولئ ؛ پیدا کړئ.

- حتی که ستاسو ماشوم لا تر اوسه خبرې هم نشي کولی، ماشوم ستاسو سره د غږ، د بدن ژبه او د ثیری د حرکاتو په ذریعه رابطه نیسی
- تاسو خپل ماشوم سره مرسته کولای شی، چی د ماشوم د غږ، د بدن ژبه او او د ثیری د حرکاتو په اړه الفاظ وکاروئ

- د انځورونو او د کتاب محتویاتو په اړه الفاظ وکاروئ
- هغه څه تکرار کړئ صحیح او په پراخه بڼه کوم چې ماشوم وايي
- د هغه لغاتونو څخه مه تیریږه کوم چې تاسو فکر کوئ چیستاسو د ماشوم لپاره مشکل وي








# د کتاب په اړه یو ځای کیدل

کله چې تاسو د خپل ماشوم سره لوستل کوي، تاسو خپل تر مینځ د نږدې والی یوه لحظه رامنځ ته کوی. د مثال په توګه دماشوم دجامواو پمبرس د بدلوو په میز کې ولولئ ، د خوب په بستر کې یا په فرش په یوځای نږدی سره کښینئ چی د سترګود اړیکو امکان موجود وی.

دا یو ښه نظر دی چې هماغه ورته کتابونه څو، څو ځلی ولولې. هر وار چې کتابونه لوستل کیږي، نو نوې کلمې یا موضوعات رامنځ ته کیږی چې تاسو یې په اړه خبرې کولی شئ

که ماشوم نه غواړئ چې قصه واورئ، نو د هغه څه په اړه ووایی، چې په انځورونو کی یې ګورئ.



- د لوست لحظه نزدې والي او حضور رامنځته کوي
- د کوچنیانو کنجکاوی تعقیب کړئ او د هغی ماشوم په اړه خبری وکړئ، څه چی د ماشوم ورسره شوق وی.
- ضروري نه ده چې کتاب د پیل څخه تر پای پورې ولولئ

# د ژبې او محتوا سره لوبې وکړئ

دا کولی شي ستاسو د ماشوم پوهاوی آسانه کړي په کتاب کې د عمل، که چیرې تاسو «دکتاب رول ولوبوئ». تاسو کولی شئ په کتاب کې اشخاص شئ یا په کیسه کې د ځانګړو شیانو څخه کار واخلئ.










- تشریح کړه او ویی ښاثه کلمې د کتاب څخه په ځانګړو شیانو، اشارو او د بدن ژبی سره.

- که اړتیا وي، نو په کتاب کې د عمل رول ولوبوی .

# د ژبی، لیک او محتوا سره لوبی وکړی

کله چې تاسو د ژبې سره لوبه کوئ ستاسو د ماشوم  ژبې ته پاملرنه راوړی. تاسو کولی شئ په کلمی او یا یو نومونه په زړه پورې ډول تلفظ کړئ.

کله چې تاسو  ورځنئ لیکنه ورښائی ، د بیلګې په توګه، په کتابونو کې، لوحو کې او کله چې د خرید یادداشت لیکئ، ستاسو ماشوم به پوهه ترلاسه کړي په اړه، چی  لیکل او توستل  څه شي دی.












- خپل ماشوم سره سندره ووایه او د وزن ام قا فیی سره لوبې وکړئ
- دخپل ماشوم لیکلو ته پاملرنه وکړئ او خپل ماشوم ته وښایاست چې تاسو لوستل او لیکل کوئ
- متن ته اشاره وکړئ او په اړه یې وغږیږئ چې څرنګه توری او کلمې په نظر راځی او څرنګه تلفظ کیږی




# ډیر کتابونه راپیدا کړه

تاسو کولی شئ کتابتون کې ډیری کتابونه امانت واخلئ او یا په
www.aakb.dk

امکان لري د کتابتون د کارکونکی څخه  د ښه کتابونو د موندلو لپاره مرسته ترلاسه کړي

د نورو کتابونو لپاره په www.aarhus.dk/read  تاسو کولی شئ
نظریات وموميئ

په eReolen  کی تاسو کولائ شی الکترونیکی
او صوتی کتاونه امانت واخلئ



# د ژخپل ماشوم سره په هغه ژبه وِغږېږئ چې تاسو یې ښه وا یاست

که تاسو د ډنمارک پرته په بلی ژبی خبرې کوئ، تاسو کولی شئ هغه ژبه وکاروی، کله چې تاسو د کتاب په اړه خبرې کوئ. د خپل ماشوم سره په هغه ژبه کې خبرې وکړئ چې تاسو یې ښه وا یاست. تاسو کولی شئ د کلمو او عباراتو په اړه په دواړو، په ډنمارکي او ستاسو د ماشوم په مورنۍ ژبې خبرې وکړئ

# تاسو لا زیات کولای شی د ریډ په اړه ولولئ

تاسو کولی شئ د ریډ په اړه  - یوځای د لوستلو لپاره او نور مواد په ډیرو مختلفو ژبوکی  کې  په

www.aarhus.dk/read  ویب پاڼې کی ومومئ.



د آغوس ښاروالئ ،2019